## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

6قوس_سال 1403



# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

**عنوان** **صفحه**

**د مهاجرینو چارو وزیر: الله تعالی دې موږ ته پر اسلامي احکامو د ښه پوهاوي وس راکړي -------------------------1**

**معین مسلکی وزارت امور مهاجرین، از جریان کار ساخت یک باب مکتب در ولایت زابل، نظارت نمود---------------1**

**د وزارت مسلکي مرستیال زابل کې د یو روغتیایي مرکز د کاري بهیر څارنه وکړه-----------------------------------2**

**توزیع کمک های نقدی برای 162 خانواده در ولایت سرپل صورت گرفت ------------------------------------------3**

**بې اسناده کډوالو ته اسناد ورکول: د اسپانیا نوي قانون کې څه راغلي دي؟-----------------------------------------4**

**غرق شدن کشتی پناه‌جویان در یونان؛ شش کودک و دو زن جان باختند --------------------------------------------7**

خبرنامه

# متن کامل اخبار

## د مهاجرینو چارو وزیر: الله تعالی دې موږ ته پر اسلامي احکامو د ښه پوهاوي وس راکړي

د وزارت ویب سایت



د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزیر الحاج خلیل الرحمن حقاني د ماسپښین له لمانځه وروسته د وزارت کارکوونکو ته په خطاب کې وویل: لمونځ یو الهي فریضه ده، چې په ژوند کې له ایمان وروسته ځانګړی او اړینه ده چې پر شرایطو یې پوه شو .

هغه دغه راز په جماعت سره د لمانځه پر ادا کولو ټینګار وکړ او زیاته یې کړه: د اسلام تر ټولو مهم شرعي حکم لمونځ دی، الله تعالی دې موږ ته پر اسلامي احکامو د ښه پوهاوي وس راکړي چې د دنیا او اخرت بریالیتوب مو په برخه شي او له غرور او تکبر څخه مو وساتي.

دغه راز د ښاغلي حقاني له لوري سپارښتنه وشوه، چې دا فریضه دې په جماعت سره په جومات کې ادا شي

## معین مسلکی وزارت امور مهاجرین، از جریان کار ساخت یک باب مکتب در ولایت زابل، نظارت نمود

ویب سایت وزارت



**الحاج مولوی عبدالرحمن راشد، معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان، در ادامه سفرش به ولایت زابل از جریان کار ساخت یک باب مکتب نظارت بعمل آورد.**

**مکتب متذکره که در قریه خرواریان مرکز زابل قرار دارد دارای ۱۶ اتاق درسی بوده که کار اعمار آن با هزینه ۳ صدو ۹۳ هزار دالر امریکایی از جانب کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان آغاز و در ساحه دونیم جریب زمین اعمار می‌گردد.**

**آقای راشد در این بازدید بر تطبیق بهتر کار ساخت و کیفیت مواد ساختمانی مکتب متذکره به مسوولین شرکت ساختمانی تطبیق کننده هدایات لازم داد.**

## د وزارت مسلکي مرستيال زابل کې د يو روغتيايي مرکز د کاري بهير څارنه وکړه

د وزارت ویب سایت



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*




**د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد زابل ولایت ته په خپل سفر کې په دغه ولایت کې د روغتیایي مرکز د کاري بهیر څارنه وکړه.**

**دا روغتیایي مرکز د زابل ولایت د مرکز اړوند د باباګک په کلي کې دی، چې د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ په مالي مرسته د ۳سوه ۸ زره امریکایي ډالرو په ارزښت پیل شوی دی.**

**په دې څارنه کې د دغه ولایت ځینو سیمه ییزو مسولینو هم ګډون کړی و او ښاغلي راشد د دې روغتیایي مرکز پر معیاري کېدو ټینګار وکړ.**

## توزیع کمک های نقدی برای 162 خانواده در ولایت سرپل صورت گرفت

ویب سایت وزارت




**برای 162 خانواده بیجاشده و برگشت کننده در ولایت سرپل، جهت اعمار سرپناه کمک نقدی، بتاریخ 4 قوس توزیع شد.**

**خانواده های متذکره که قبلاً در مناطق مرکزی با هماهنگی آمریت مهاجرین سروی و شناسایی شده بودند در سه بخش مبلغ 43 هزار و 320 افغانی، 22 هزار و 520 افغانی و 11 هزار و 226 افغانی کمک انجمن مهاجرین ناروی را دریافت نمودند.**

## بې اسناده کډوالو ته اسناد ورکول: د اسپانیا نوي قانون کې څه راغلي دي؟

مهاجرنیوز



س

**د اسپانیا د کډوالۍ قانون کې رامنځته شوي اصلاحات چې له مخې به یې په سلهاوو زرو بې اسناده مهاجرو ته اسناد ورکړل شي د تېرې چهارشنبې په ورځ په رسمي جریده کې نشر شول. د دغه قانون مهم ټکي کوم دي؟**

**دغه تقنیني سند چې له مخې به یې په سلګونو زرو بې اسناده مهاجرو ته د استوګنې اسناد ورکړل شي د تېرې چهارشنبې په ورځ د نومبر ۲۰ په رسمي جریده کې خپور شو. د ادغام، ټولنیز خوندیتوب او کډوالۍ وزیرې الما سایز په وینا، دا رېفورم به د ۲۰۲۵ د می په ۲۰مه له شاهي فرمان وروسته نافذ شي .**

**د یاد رېفورم موخه دا ده چې بې اسناده کډوالو ته د زدکړېزو پراګومونو له لارې او یا د کاري او کورنیو دلایلو پراساس اسناد ورکړل شي.**

**کډوال نیوز د دغه قانوني مهمو ټکو ته لنډه کتنه کړې ده .**

- **د «اراېګوس» په نوم اقامت کارتونه**

**په اسپانیا کې د «اراېګوس» – «رېښې» – په نوم اقامت کارتونه هغو کسانو ته ورکول کېږي چې په ټولنه کې ادغام شوي وي. د ۲۰۲۳ په پای کې، له ۲۱۰ زرو څخه زیاتو کسانو اسپانیا کې د «اراېګوس» اقامت کارتونه درلودل چې دغه شمېرې د ۲۰۲۲ کال په پرتله څه باندې دوه نیم چنده زیاتوالی ښیي .**

**د «اراېګوس» نوي ډولونه :**

»دویم چانس«

دغه اقامت کارتونه هغو کسانو ته ورکول کېږي چې اسپانیا کې یې د اوسېدو دوه کلن سندونه درلودل، خو د دوی د اسنادو موده پای ته رسېدلې او نور په دغه هېواد کې د پاتې کېدو اجازه نه لري. د نوي رېفورم له مخې، دغه کسان کولی شي چې د نوو اقامت کارتونو غوښتنه وکړي.

شرط: غوښتونکي باید ثابته کړي چې دوه کاله یې اسپانیا کې تېر کړي دي .

»ټولنیز او زدکړېز« اقامت کارتونه

د دغه اقامت کارتونو د ترلاسه کولو لپاره کډوال باید په هغو برخو کې زده کړې وکړي چې د کارګرو له کمښت سره مخ دي. غوښتونکي کولی شي چې زدکړېزو پروګرامونو یا «ترېننګونو» پر مهال ځان ته کار هم پیدا کړي .

»ټولنیز او مسلکي« اقامت کارتونه

غوښتونکي باید ثابته کړي چې دوه کاله په اسپانیا کې اوسېدلي دي. له دې وړاندې د »ټولنیزو او مسلکي« اقامت کارتونو د ترلاسه کولو لپاره د ۳۰ کاري ساعتونو پوره کول اړین بلل کېدل، خو اوس ۲۰ ساعتونو ته ټیټ شوي دي .

»کورني« اقامت کارتونه

تر دې دمخه دغه اقامت کارتونه یوازې د اسپانوي وګړو والدینو او ماشومانو ته ځانګړي شوي وو. اوس د بهرنیو ماشومانو والدین او د معلولانو مرستندویان هم د دغه اقامت کارتونو غوښتنه کولی شي .

»ټولنیز« اقامت کارتونه

غوښتونکي باید دوه کاله په اسپانیا کې اوسېدلي وي. سربېره پر دې، کډوال باید ثابته کړي چې له اسپانیا مېشتو کسانو سره کورني تړاو لري او په ټولنه کې ادغام شوي دي .

- د ویزو په برخه کې اسانتیاوې

اسپانیا کې د ویزو ډولونه: لنډمهالې، اوږدمهالې، د استوګنې، د بندري او هوایي ترانسپورټ، استثنایي او کاري ویزې.

د نوي رېفورم له مخې، ټولې ویزې د یو کال لپاره اعتبار لري او د څلورو کلونو لپاره تمدیدېږي .

- رد شوي پناه غوښتونکي

د نوي قانون له مخې، اسپانیا کې رد شویو پناه غوښتونکو ته د لنډمهال لپاره اسناد ورکول کېږي. دغه کسان کولی شي چې د «ارایګوس» د اقامت کارتونو غوښتنه وکړي. دوی باید ثابته کړي چې شپږ میاشتې یې د اسپانیا په خاوره کې تېرې کړې دي .

کډوال د منفي ځواب له ترلاسه کولو وروسته یو کال وخت لري چې د «ارایګوس» د اقامت کارتونو غوښتنه وکړي .

- د کورني الحاق په برخه کې اسانتیاوې

**هغه کسان چې عمرونه يې له ۲۶ کلونو څخه تيټ وي کولی شي چې خپلې کورنۍ اسپانيا ته را وغواړي. «غير رسمي» جوړې هم کولی شي چې له دغو اسانتياوو څخه ګټه پورته کړي. دوی بايد ثابته کړي چې له يو بل سره «عاطفي رابطه» لري .**

- **د موسمي کارګرو لپاره اسانتياوې**

**دغه ريفورم د موسمي کارګرو حقونو ته هم پاملرنه کوي. د ريفورم کې په متن کې راغلي دي چې ټولو کارګرو ته بايد د دوی په ژبه او په کتبي ډول د هغوی د حقونو او د کاري شرايطو په اړه معلومات ورکړل شي. دغه اقامت کارتونه کارګرو ته اجازه ورکوي چې له خنډونو سره د مخامخ کېدو په صورت کې ځان ته نوی کار پيدا کړي .**

## غرق شدن کشتی پناهجویان در یونان؛ شش کودک و دو زن جان باختند

رادیوآزادی




**در پی غرق شدن یک کشتی پناه‌جویان در نزدیکی جزیرهٔ ساموس یونان، شش کودک و دو زن جان خود را از دست دادند.**

**محافظان ساحلی در این منطقه گفتند که ۳۶ نفر بازمانده از این کشتی را در یک ساحل صخره‌ای پیدا کردند. اما پیش از پیدا کردن این ۳۶ نفر، سه تن دیگر را نجات داده بودند.**

**به گفتهٔ این نهاد، عملیات نجات هوایی و زمینی جریان دارد. تاکنون مشخص نیست که آیا سایر پناه‌جویان این کشتی مفقود هستند یا خیر. اما مقامات کشف اجساد شش کودک و دو زن را تأیید کرده‌اند.**

**ساموس و سایر جزایر در شرق دریای اژه به‌عنوان گذرگاه‌های کلیدی برای مهاجرانی شناخته می‌شوند که به‌طور غیرقانونی از ترکیه وارد اتحادیهٔ اروپا می‌شوند. عبور مهاجران از این گذرگاه‌ها در ماه‌های اخیر افزایش یافته است و مقامات یونانی علت آن را تنش‌های جاری در خاورمیانه می‌دانند.**

خبرنامه